هاري                                                                                واشنګټن ۲۰۰۹/٦/۱٦

# نوې سروې ښيي چي د کرزي ملاتړ راکميږي

د نيويارک ټايمز اخبار د جون پر ۱۶ ليکي: په افغانستان کي د ۲۰۰۴ انتخاباتو راهيسی، په عامه خلکو د جمهورريس حامد کرزي ملاتړ خورا په چټکتيا سره راکميږي. د عامه افکارو يوه نوې سروې ښيي چي د افغانانو له دريو برخو څخه تر يوې برخي لا لږ د حامد کرزی پلوی کوی.

د جمهوری غوښتونکو بين المللي انستيتوت چي د متحده ايالاتو د جمهوری غوښتونکی ګوند سره تړاو لري، په خپلي تازه سروې کی وايی: فقط ۳۱ فيصده افغانان وايی چی حامد کرزی ته به رايه ورکي. په ۲۰۰۴ کی، ۵۴ فيصده افغانانو ويلی وه چی کرزی ته رايه ورکوی.

پدې سراسري سروې کی چی د مې په مياشت کی تر سره سوېده له ۳۲۰۰ افغانانو څخه پوښتنی سوي دي. عامه افکارو سروې ښيي چي ښايی د جمهوری رياست انتخابات به دوهم پړاو هم ولری، ځکه يو کانديد به هم د عامه رايو ۵۰ فيصده و نه ګټي.

اته کاله کېږی چی حامد کرزی په واک کی دی، خو پدې تېرو کلونو کی امنيت لا خراب سوی دی. طالبانو يوازی د جون په لمړۍ اونۍ کی دونه حملې کړی دی چی ساری يې نه ليدل کيږي. اکثره خلک ددغه ناامنۍ پړه د حامد کرزی پر بد مديريت باندی اچوی.

پدې سروې کی نورو اجتماعی ستونزو ته هم اشاره سوې ده. پنځه کاله پخوا، په لسو افغانانو کی اتو تنو ګومان کاوه چی هيواد يې پر سمه لار روان دی. مګر نن ورځ، په لسو افغانانو کی فقط درې تنه همدا فکر کوی.

د افغانانو ۵۳ فيصده فکر کوی چی د تېر کال په پرتله سږ کال امنيت لا خراب سوی دی. فقط ۱۲ فيصدو افغانانو ويلی دی چی د دوی په سيمه کی سياسی او امنيتی شرايط باثباته او ارام دی.

بلخوا، د ټايم مجله د جون پر ۱۶ ليکي: د سې شبنې په ورځ د افغانستان انتخاباتی کمپېن پروسه رسما پيل سوه. په کابل او شاوخوا سيمه کی د انتخاباتی مبارزې ځرک نه ليدل کيږی، خو فقط دلته او هلته د کرزی غټ عکسونه موښلول کيږي. که څه هم ښايی کرزی راتلونکی انتخابات وګټی، خو زياتره افغانان د هغه له ليډرشيپ څخه خوشحاله او راضی ندي.

په راتلونکی انتخاباتو کی به د امنيت تر څنګ، اقتصاد هم حياتي نقش ولری. اکثره افغانان خوار او غريب دي، او سربيره پر دې د کرزي په حکومت کي اداري فساد او بدې اوج ته رسيدلي دي.

د کرزي مهم سياسي رقيبان د ماليې پخوانی وزير اشرف غنی او د بهرنيو چارو پخوانی وزير عبدالله دی.

د طب پوهنځۍ ۲۸ کلن محصل، محمد وايي: (په تېرو انتخاباتو کی، ما کرزي ته رايه ورکړه، مګر وروسته راته معلومه سوه چي کرزی زما په رايي نه ارزېدی. هغه د ملک د پرمختګ او ودی لپاره هيڅ ونه کړه. په ټولو کانديدانو کی زما عبدالله خوښ دی.)

د کابل په ځينو عکسونو کی، ښاغلی کرزی د خپلو مرستيالانو سره څنګ پر څنګ ليدل کيږي. د هغه لمړی مرستيال، محمد قسيم فهيم يومشهور جنګسالار دی چي د بشري حقوقو څخه په سرغړونو هم تورن دی. فهيم د شمال اتيلاف غړی دی. کرزی غواړی چی د فهيم په ملګرتيا د تاجيکو رايي تر لاسه کړي، خو د فهيم شتون ډېر جنجالونه ايجاد کړي دي. ملګرو ملتونو او د بشر د حقوقو ډلو د فهيم پر تېرو ناروا اعمالو باندی کلک انتقادونه کړي دي.

د ۲۰۰۴ په انتخاباتو کی، ۱۸ کانديدانو برخه اخيستې وه. کرزي د انتخاباتو په لمړي پړاو کي د رايو ۵۵ فيصده وګټله.

همدا اوس، د کرزي انتخاباتي رقيبان وايي کرزی د دولتي منابعو څخه پخپل کمپېن کي ګټه اخلي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

بل پلو، د برتانيي ټلګراف ورځپاڼه د جون پر ۱۶ ليکي: ولسمشر حامدکرزی پدې متهم دی چي د جمهوری رياست مقام د ګټلو لپاره يې د (بدماشانو او ډانګيانو) سره ايتلاف کړی دی.

ورځپاڼه ادامه ورکوي او ليکي: جنرال رشيد دوستم هغه بدنامه او ظالم اوزبک جنګسالار دی چي مليشاووی يې په غلا، وحشت، او قتل شهرت لري. هغه تېر کال په موقتی توګه هغه وخت له خپلی دندی څخه ګوښه کړای سو چي خپل يو سياسي رقيب يې برمته او شکنجه کړ.

د هغه وخت راهيسی دوستم به ترکيي کي اوسيده. خو کله چي جنرال دوستم په راتلونکو انتخاباتو کی د کرزي ملاتړ وکړ، کرزی اوس وايي د دوستم ټول دولتي حقوق ساتلی دی، او هغه کولای سی چي ازادنه عمل وکی.

پدې تېرو څو مياشتو کی، کرزی د قومی ملشياوو د مشرانو سره ناروا او جنجالی ايتلافونه کړی دی. په کابل کی، ځينی غربی ډپلوماتان د کرزي همدې معاملو سخت اندېښمن کړی دی. هغوی وايي: ددغو جنګسالارانو په شتون کی د ملک پرمختګ او انکشاف يو هسي خوشي خوب او خيال دی.

يو غربی ډپلومات وايي: (هغوی بدماشان او ډاکوګان دي. که چيری يو سړی د توپک په چلولو کی مهارت ولری، دا ددې مانا نلري چی هغه به حتما د ملک په چلولو کی هم مهارت لري.)

غربي ډپلوماتان وايي: د کرزي په حکومت کي د همدغو کسانو حاکميت چي د افغانستان په تباه کونکی کورنی جنګونو کی يي اساسی ونډه لرله، اوس همدا ټوپکيان د افغانستان د بياودانولو په لاره کي اساسی خنډونه دي.

په همدې لړ کي، د سنډې ابزرور د جون پر ۱۳ ليکي: اشرف غني د حامد کرزي يوازنی جدي سياسی رقيب دی. اشرف غني د (يو نوي پيل) په نامه خپل انتخاباتي کمپېن پيل کړی دی. اشرف غني وايي: ( دا يو فاسد حکومت دی چی هم د بشر له حقوقو څخه سرغړونه کوی، هم تشدد او مرګ ژوبلي ته دوام ورکوي، او هم د بيت المال او عامه خلکو شتمني لوټ او تالا کوی.)

اشرف غني په خټه پښتون او په ۱۹۴۹ کي کابل ته څېرمه په يوه کلي کي زېږېدلی دی. هغه په خارج کی عالی تحصيلات کړی دی. کله چي اشرف غني د ماليي وزير وو، هغه د افغانستان د کليوالي سيمو د جوړولو لپاره موثر ګامونه اخيستي وه. هغه وايي،( څه د پاسه ۵۰۰ ميلونه ډالره د کليوالي پراختيا په غرض ولګېدي. هغه زياتوي، کليوال افغانان زما ړغ پيژني. په افغانستان کي يوازي ما د کليوالي انکشاف مسله را پورته کړېده. په هر کلي کي افغانان ماته غوږ نيسي او زما سره نژديکت او تړاو پيدا کوی.)

ورځپاڼه زياتوي اشرف غني په ټولو کانديدانو کي عصری، فعال، او مخکښ دی. هغه يوه نوې ويب پاڼه هم لري. د هغه په انکشافي پروګرام کی د يوه ميلون نوي کورونو جوړول، د يو ميلون نوي کارونو ايجادول، د ۱۰۰۰۰ ميګاواټ برق توليدول، د افغانستان مرکزي سيمی پرانيستل، او د کليوالي خلکو ورځنی عايد له يوه ډالر څخه څلورو ډالرو ته جګول شامل دي. اشرف غني وايي: پراخه او مزمنه بېکاري ځوانان طالبانو ته ورکشوي.

اشرف غني وايي،(زما پلان دا دی چي په دوو کلونو کي ۶۰ فيصده افغانان ووايي چي افغانستان پر سمه لار روان دی. زه اقتصادی پلان لرم، خو کرزی د ملک د ابادولو لپاره هيڅ مناسب پلان او ستراتيژي نلري.)


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de